# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



درویش وردک

۲۵ اپریل ۲۰۱۶

## یودیرشم مجلس( وړ اوناوړه قهر)

د۵۴۵ هجری قمری کال دجمادی الاول په اته لسمه ماښام شیخ عبدالقادرګیلانی(رضی الله تعال عنه) داسی وفرمایل:
که قهراوغضب دخدای له جانبه وی، نوپسندیده(غوره) دی، ولی پرته له خدایه هغه ناوړه دی. مومن که په غصه شی نوهغه دخدای لپاره ده ،نه دخپل نفس دارضا لپاره. که په قهرکیږی نوددین سره دمرستی لپاره به وی، نه دخپل ځان لپاره، هرکله که وګوری چی یو دشرعی له اوامرو څخه مهمل(ترپښولاندی) شوی وی، داسی په غصه کیږی چی له پرانګه دده ښکارواخلی.
پس ته خپل قهرچی دځا ن لپاره دی، خدای ته نسبت مه ورکوه،چی په دی حال کی به دمنافقانوله ډلی واوسی. اوددی شخصی غضب نښانه داده چی ژرزایل کیږی، ځکه که دخدای درضالپاره وای ، نوژربه له منځه نه تلای. نوهرکله که ددخدای داوامرولپاره لاس په کارواچاوه، لومړی دنفس هواله ځانه لیری کړه، اویوازی دخدای رضا په سترګوکی ولره.
په هرکارکی باید دخدای رضا، دشریعت په امرامتثال، یا خدایی الهام چی په زړه موراخپورشی، باید ستا محرک اوهڅوونکی واوسی. دنفس له هوا، له دنیا اوددنیا له خلکو لیری والی وکړه ترڅودحق دقرب ترڅنګ په هوساینه اوآرامی کی واوسی، اوپه دی مرحله کی دشخص دزړه تولی تیاری په صفا اوروښنایی بدلیږی.
ته هم دراستانو له قوم سره ګام واخله، ددوی په څیروګوره، ددوی په څیرعمل وکړه، ترڅوددوی هم تاته مباهات وکړی. همداسی چی ته ددوی په وجود مفتخریی، اومطلق ملک هم دټولو بندګانو ترمنځ تاته درضایت په سترګو وګوری. زړه دی پرته له خدایه له غیرو پاک کړه، ځکه ته په زړه سره خدای ته ګوری، پوه شه چی هغه زړه دداسی دیدارلیاقت لری چی دمادی ککړتیاوڅخه په توله سره پاک وی. دهمدی دیدپه وجه دی چی دبندګانوپروړاندی دخدای افعال اواعمال مشاهده کوی. همداسی چی دظاهری نامناسبی وضعی سره نه غواړی د دنیوی سلاطینو اوملوکوپروړاندی حاضرشی، پس نه باید په ککړزړه اوناوړه باطن سره دپادشاهانو پادشاه په حضورکی حاضرشی، دپادشاهانوپادشاه دحق تعالی اقدس ذات دی، چی پرړواندی یی باید داسی حاضرشو چی دده داقدس مقام سره ښایی.
ته بی اخلاصه اوستومان زړه یی، له تاسره څه کولای شو؟ زړه دی پاک کړه،ترڅو دحضورلیاقت پیداکړی. په زړه کی دی دګناه شوق، دخلکوویره، خلکو ته امید، اوددنیا حب پروت دی، داټولی دزړه ککړتیاوی دی چی باید دپاک کولو په

فکرکی یی واوسی، اوداپه داسی صورت کی ممکنه ده چی لومړی دنفس هوا کنترول کړی، اوپرخلکو توکل له زړه وباسی، په دی حال کی به دزړه پاک شی!
اونوربه دخلکواقبال اوادباروته پاملرنه ونکړی.  ولی ترڅوچی دزړه له پلیتیو یوه هم ستا په زړه کی وی، اوته هم پری خبروی، حق ته درسیدو قصد مه کوه، ځکه دقبول وړنګرځی، ترڅو چی دخلکو مدح اوذم ته ، ددوی عطا اومنع ته اعتناء ولری، کوم ځای ته به ونه رسیږی. اما که دی توبه صحت اوکمال ته ورسیده، ایمان به دی هم زیادشی، ځکه داهل سنت پروړاندی ایمان کم اوزیادیږی، اوډیریدل یی دطاعت اوبندګی پواسطه امکان مومی، اودګناه اومعصیت پواسطه نقصان مومی،  البته داموضوع دعواموپروړاندی صادقه ده، ځکه خواصولره ایمان ،دزړه څخه دخلکو په ایستلو ډیریږی، اوزړه ته دخلکو په ننوتو نقصان مومی. په هغه سکون اوآرامش چی خدای عنایت وکړی، ډیریږی، اودخلکو په عنایت نقصان کوی.
پس خواص به هرحال کی په خدای متوکل دی، پرده استنادکوی، له ده څخه ویره کوی، هغه په یووالی ستایی، اوهیڅ احد له ده سره شریک اوانبازنه نیسی، توحید یی په زړونو کی استواره وی، اودخدای له مخلوق سره هم مداراکوی، که دکوم جاهل دجهل سره مخ شی نو دهغه سره په صبر اوشکیبایی چلند کوی. عزّوجلّ خدای فرمایی: («وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَاما) دجاهل دجهل پروړاندی لازمه ده چی چوپتیا اوبردباری غوره شی، اوددوی دنفس دهوا له طغیانه باید لیری اوسی..
ولی که دی ولیدل چی په عصیان اونافرمانی لاس پوری کوی، نوچپ مه اوسه، ځکه دحق له معصیت سره سکوت حرام دی. دفاع له حقه عبادت اوسکوت ګناه ده.
هرکله که دمعروف په اقامه اوله منکره په نهی سره قادره وی، نوکوتاهی مکوه، ځکه هغه یوبابد دحق درحمتونو څخه دی چی دمومن پرمخ پرانیستل کیږی، پس زیاروباسه چی هغی ته وردننه شی.
داسی نقل کوی چی حضرت عیسی علیه السلام،  دصحرا له بوټوڅخه خواړه تهیه کول اوله آبشارونویی اوبه څکلی، اوپه غارونو اوکنډوالو کی به یی ژوند ترسره کاوه، اودخوب پروخت به یی دبالښت پرځای پرډبره سرایښود. مومن هم خدای ته درسیدلو په لاره کی همداسی ددنیا له لذایذو سترګی پټولی، اوکه به له دنیا څخه ورته کومه برخه ورسیدله هغه به یی هم ضرورتاً دشرعی په دستور تراستفادی لاندی نیوله. ولی په هرحال یی زړه په خدای مشغول و، ځکه که ریښتینی زهد په زړه کی ځای ونیو، دنیا اوظواهریی دهغی په زایل کیدوقادره نه وی، ځکه مومن کیداشی چی ددنیا لذایذو ته پاملرنه وکړی، ولی هیڅکله یی باطن په هغی نه بوخت کیږی، اویوه لحظه هم دخدای له یاده غافله نه وی، ځکه عزّوجلّ خدای دنفس اوشهواتودعیبونو پیژندګلوی ورته اعطاء کړی.شپه اوورځ دعبادت په فکر اوذکرکی وی، اوپه ویښ زړه دنیا ته په نه پاملرنه سره نادم اوپښیمانه وی. دکتاب اوسنت اوداولیاودارشاد په وسیله ددنیا پرټولو بدیو اوعیبونو یی اطلاع ترلاسه کړی، اوهرکله که هغی ته ګوری، نوددنیا اوزخارفو ناپایداری یی سترګوته ودریږی. ډیر ښه پوهیږی چی ددنیا نعمتونه زایلیږی، اومحاسن یی بدلون مومی، اواخلاق یی ناوړه اوزښت دی، لاسونه یی مکاره اوپری کوونکی، وینایی له زهروډکه، خواړه یی تیریدونکی اونه راګرځیدونکی دی، نه بینایی لری، اونه هم پرکوم عهد پایینده دی، په دنیا تکیه کول داوبو پرمخ دکوردجوړلو په څیر دی چی ثبات اوپایداری نلری. له دی موانعوڅخه په تیریدو مومن ارتقاء پیداکوی، اودخدای په لټه کی وی اوهغه پیژنی، پداسی حالت کی آخرت هم په نظرکی نه راولی، اویوازی اویوازی دمولا دقرب په هکله فکر کوی اوپرته له قربه بل څه نه غواړی. قرارګاه اوداوسیدوځای یی هماغه دمولا قرب دی، څه په دنیا اوڅه په آخرت کی.  پدی حال کی نورددنیا عمارت ورته زیان نشی رسولای،  که زړودانی

هم جوړی کړی. دخدای اوامرپرځای کوی اودالهی قضااوقدرسره کاملا سازګاره دی. دخلکو خدمت ته قیام کوی اودخلکو هوساینی اورفاه لپاره زیاراوتلاش کوی.

دخلکو دخوړو دتهیه کولو په فکر کی وی اوخپله یوه ذره هم له هغی نه خوری، ځکه هغه ځانګړی خواړه لری، چی څوک په هغی کی شریک ندی. دنورودخوراک پرمحال هغه روژه وی،اودخپل طعام پروخت مفطر.

دزاهد روژه دخوړو اوڅکلوڅخه ډډه کول دی، اودعارف روژه هرڅه چی غیردخدای له شناخت څخه وی، له هغی لیری والی. عارف تل وږی وی اودرببنتینی رازق پرته دهیچا له لاسه څه نه اخلی. درد اورنځ یی دحق له قربه لیری والی اودرمان دحق قرب دی. دزاهد روژه دورځی لخواده ولی دعارف روژه شپه اوورځ ده. هغه وخت روژه ماتوی چی لقاءالله ته ورسیږی. عارف تل روژه داره دی اوهمیشه په تبه اوحم کی، اوامیدواره دی چی یوه ورځ به لقاءالله هغه ته شفاء ورکړی.

(ای دخدای بنده) که دخلاصون غوښتونکی یی نوخلق له زړه وباسه، خوف اورجاء دی نباید له خلکو وی. له دوی سره انس مه اخله، اوله هغی څخه لکه څرنګه چی له مرداری تښتی، تیښته وکړه، هرکله که دی داوکړل نوپوه شه چی دخاطراطمینان اومطمئنه زړه ته رسیدلی یی، اودغیرخدای له ذکره دی زړه پری کړی، اویوازی دده په یاد اوذکرکی به اوسی.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار». آمین**